مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۳۰

# ناهیلی

خوره د ښارکوخو کی بیا د ویرې افسانه ده
زیړون د بل وحشت ته وروری هسی بهانه ده

د ذوق سندره اوری بیرته تیرو فریادو ته
لیوانو په صحرا کی بیا پیل کړی ترانه ده

سرتورې دې رواني زیارتو ته بورې میندې
لاسو کی ورسره د بچو وینه شکرانه ده

غوټی په رژیدو دې را روان دی بیا خزان
همدا د بل په خوښه د ژوند کړلو نذرانه ده

ښکاریږی چپه کیږی په لمنو کی د غرونو
تر څنډو ډکه شوی د صبرونو پیمانه ده

تقدیر چی بدل نکړی کلیوالو په خپل لاس
بی رحمه له هر وخت نه دا روانه زمانه ده

اگست/۲۶/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کانادا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ